د امریـــــکا متحده ایالاتو
او د افغانستان اسلامي جمهوریت
تر منځ
د امنیتي او دفاعي همکاریو قرارداد

سریزه

د امریکا متحده ایالات (چې له دې وروسته د "متحدو ایالاتو "په نوم) او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت (چې له دې وروسته د "افغانستان" په نوم) په ګډه "دواړه لوري" او په انفرادي توګه "لوری" یادیږي؛

د امریکا متحده ایالاتو او د افغانستان اسلامي جمهوریت ترمنځ د اوږد مهالو ستراتیژیکو همکاریو د موافقتنامې (د ستراتیژیکو همکاریو موافقتنامه) په تائید چې د ۲۰۱۲ کال د مې په ۲مه (د ۱۳۹۱ لمریز کال د غوئي ۱۳مه) لاسلیک شوه، د همدې موافقتنامې پر مواردو په بیا ټینګار سره دواړه لوري ژمن دي چې د ګډو ګټو پر بنسټ اوږدمهاله ستراتیژیکې همکاری پیاوړې کړي، لکه: د سولې، امنیت او ثبات پراختیا؛ د دولتي ادارو پیاوړتیا؛ د افغانستان اوږدمهاله اقتصادي او اجتماعي انکشاف او د سیمه ییزو همکاریو هڅول؛

"د ستراتیژیکو همکاریو په موافقتنامه" کې د دې اصل په تائیدولو سره چې د دواړو لوریو ترمنځ همکاري د دوه اړخیز احترام او ګډو ګټو پر بنا باندې ولاړه ده؛

همدارنګه "د ستراتیژیکو همکاریو د موافقتنامې" د هغه اصل پر بیاټینګار سره چې دواړه لوري به خپلې همکاری ته په ډاډمنه توګه دوام ورکوي، ځکه دوی د افغانستان د خلکو لپاره د یوې عادلانه، سوله ییزې، امنې او له فرصتونو څخه ډکې راتلونکې د تحقق لپاره تعهد لري او همداراز د افغانستان ملي حاکمیت، خپلواکی، ځمکنی بشپړتیا او ملي وحدت ته د دواړو لوریو په ټینګې ژمنې باندې بیا ټینګار کوي؛

د متحدو ایالاتو او افغانستان ترمنځ دوامداره مشارکت ته په پام او د دې قرارداد پر

ترخو د القاعدې او ورپورې تړلیو ډلو لپاره مصوون پټنځای نه وي، د افغانستان وړتیاوې پیاوړې کړي ترخو د خپل ملي حاکمیت، امنیت او ځمکنۍ بشپړتیا پر وړاندې ګواښونه دفع کړي؛ او دې ته په اشارې سره چې متحده ایالات په افغانستان کې د دایمي نظامي تأسیساتو په لټه کې نه دی او د داسې حضور په لټه کې هم نه دی چې د افغانستان ګاونډیانو ته ګواښ وي؛ او ژمن دی چې د افغانستان له خاورې او تأسیساتو څخه د هېڅ بل هېواد پر وړاندې د بریدونو لپاره استفاده و نه کړي؛

د افغانستان په اړه د شیکاګو د سرمشریزې اعلامیې ته په اشارې چې د ۲۰۱۲ کال د مې په ۲۱مه (د ۱۳۹۱ لمریز کال د غبرګولی لومړۍ) د دولتونو د مشرانو، د افغانستان د حکومت او د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان (ناټو) تر مشرۍ لاندې د آیساف د غړو هېوادونو له خوا صادره شوه، په خاص ډول ګډون کوونکو د یو حاکمیت لرونکي، با امنه او دموکراتیک افغانستان لپاره پر خپلو ټینګو ژمنو یو وار بیا ټینګار وکړ او د دې په تائیدولو سره چې د ۲۰۱۴ میلادي کال (د ۱۳۹۳ لمریز کال ژمی) تر پایه په افغانستان کې د امنیتي مرستې نړیوالو ځواکونو (آیساف) ماموریت پای ته رسیږي او د انتقال د بهیر له پای ته رسېدو څخه وروسته د افغانستان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د روزنې، مشورې او همکارۍ په هدف د ناټو ترمشرۍ لاندې د یو نوي ماموریت د رامنځته کولو لپاره د ناټو او افغانستان ګډو ژمنو په شمول د افغانستان او آیساف ترمنځ نږدې همکارۍ دوام مومي؛ پر دې باندې په ټینګار سره چې داسې ماموریت لازم صلاحیتونو، د حضور د څرنګوالي ترتیباتو او قانوني مبنا ته اړتیا لري؛

د اړیکو ترینګلتیاوو، ابهام او سؤتفاهم د کمولو له لارې د امنیت او ثبات د پیاوړتیا په هدف د سیمه ییزو همکاریو او همغږیو د میکانیزمونو لپاره د دواړو لوریو پر دوامداره ملاتړ باندې په بیا ټینګار سره؛

د ۲۰۱۳ میلادی کال (۱۳۹۲ لمریز کال) د لویې جرګې د تائید په یادونې سره چې د افغانستان او متحده ایالاتو ترمنځ د امنیتي او دفاعي همکاریو قرارداد د افغانستان د امنیت لپاره اهمیت لري؛

د یو بل خپلواکۍ، ملي حاکمیت او ځمکنۍ بشپړتیا ته د بشپړ درناوي او د یو بل په کورنیو چارو کې د نه لاسوهنې اصولو ته په پاملرنه، په سیمه کې د امنیت او ثبات

همدارنګه په دې باندې په ټینګار سره چې د دواړو لوریو ترمنځ همکاري د یو بل ملي حاکمیت ته د بشپړ درناوي، د ملګرو ملتونو د منشور اهدافو او د هغې ګډې علاقې پر بنسټ ولاړه ده چې د دواړو لوریو ترمنځ د دفاعي او امنیتي همکاریو یو چوکاټ رامنځته کوي او دغه راز د افغانستان ملي حاکمیت، خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او ملي یووالي ته د دوی پر ټینګه ژمنه او د افغانستان قوانینو، دودونو او عنعناتو ته پر احترام باندې په بیا ټینګار سره؛

دواړه لوري په لاندې ډول موافقه کوي:

لومړۍ ماده

اصطلاحات

۱. "د متحده ایالاتو ځواکونه" هغه جوړښت دی چې د افغانستان په خاوره کې د متحده ایالاتو د ځواکونو او اړونده ملکي برخې غړي او همداراز د متحده ایالاتو د وسله والو ځواکونو ټول ملکیتونه، تجهیزات او تسلیحات په بر کې نیسي.

۲. "د ځواکونو غړی" هر هغه فرد دی چې د متحده ایالاتو په ځمکنیو، سمندري یا هوایي وسله والو ځواکونو پورې مربوط وي.

۳. "د ملکي برخې غړی" هر هغه فرد دی چې د متحده ایالاتو د دفاع وزارت له خوا استخدام شوی وي او د پوځي ځواکونو غړی نه وي. اما هغه کسان چې په افغانستان کې په دایمي توګه اوسیږي یا هغه افغان وګړي چې معمولاً په افغانستان کې استوګن دي، "د ملکي برخې غړي" نه شمېرل کیږي.

۴. "اجرائیوي استازی" د افغانستان له خوا د افغانستان د دفاع وزارت او د متحده ایالاتو له خوا د دغه هېواد د دفاع وزارت دی. اجرائیوي استازی د اصلي ارتباطي مرجع په توګه، د دې قرارداد د تطبیق په چارو کې د خپل لوري له خوا استازیتوب کوي.

۵. "د متحده ایالاتو قراردادیان" هغه حقیقي او حکمي اشخاص دي چې د اصلي یا فرعي قرارداد پر اساس په افغانستان کې د متحده ایالاتو ځواکونو ته د اکمالاتو او خدماتو د وړاندې کولو مسوولیت لري او یا د هغوی په استازیتوب، د متحده ایالاتو له ځواکونو سره یا د دوی د مرستې لپاره دغه چارې ترسره کوي.

۶. "د متحده ایالاتو د قراردادیانو کارکوونکي" هغه افراد دي چې د متحده ایالاتو د قراردادیانو له خوا استخدامیږي.

۷. "منل شوي تأسیسات او ساحې" هغه تأسیسات او ساحې دي چې د دې سند په (الف) ضمیمه کې د افغانستان په خاوره کې په یاد شویو موقعیتونو کې د افغانستان له خوا براېرې او دغه راز هغه نور تأسیسات او ساحې دي چې په راتلونکي کې د افغانستان له

۸. "د افغانستان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه" هغه جوړښت دی چې د افغانستان د کورنيو چارو او دفاع وزارتونو او د اړتيا په صورت کې د ملي امنيت رياست او له دوه اړخيز توافق سره سم د نورو ارګانونو پرسونل په بر کې نيسي.

۹. "ماليات" هر ډول ماليات، محصول (د ګمرکي محصول په ګډون)، فيسونه، او نور مشابه يا اړوند لګښتونه دي چې د افغانستان د حکومت له خوا او د دې قرارداد د اهدافو لپاره د ولايت، ولسوالۍ او په هره سطحه کې د افغانستان حکومتي چارواکو او د دوی تر لاس لاندې ادارو له خوا وضع کيږي.

دوهمه ماده

هدف او محدوده

۱. دواړه لوري په افغانستان کې د امنيت او ثبات د ټينګښت، له تروريزم سره د مبارزې، د سيمې او نړۍ د سولې او امنيت په تأمينولو کې د ونډې اخيستنې لپاره د نږدې همکاريو پياوړتيا ته دوام ورکوي او د افغانستان توان لوړوي ترڅو د خپل ملي حاکميت، امنيت، ځمکنۍ بشپړتيا او ملي يووالي او د اساسي قانون پر بنسټ د ولاړ نظام پر وړاندې کورني او بهرني ګواښونه دفع کړي. د متحده ايالاتو ځواکونه په افغانستان کې محاربوي عمليات نه شي ترسره کولای، مګر دا چې دواړه لوري په بل ډول توافق وکړي.

۲. د دغه هدف د تحقق لپاره، متحده ايالات له افغانستان سره په نږدې همکارۍ او همغږۍ کې د افغانستان د خلکو د امنيت د تأمين په خاطر له افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو سره د اړتيا وړ قابليتونو د لوړولو په برخه کې د مرستې په هدف د ګډ توافق پر اساس لاندې حمايوي فعاليتونه ترسره کوي: د ساحوي انجنيرۍ، د سړک غاړې د بمونو او نورو چاودېدونکو توکو د خنثی کولو په برخو کې د قابليتونو پر لوړولو سربېره، د افغانستان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو ته مشوره ورکول، د هغوی روزنه، تجهيز، ملاتړ او مرسته؛ د افغانستان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د ټرانسپورتي او لوژستيکي سيستمونو ايجاد او

سره سم او همداراز "د امنیت مشورتي مجمع" د چوکاټ پر اساس خپل کار ته دوام ورکوي.

۳. دواړه لوري تائیدوي چې د افغانستان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه د افغانستان د خلکو او خاورې د امنیت د تأمینولو مسؤلیت لري. دواړه لوري د افغانستان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د توان لوړولو لپاره کار کوي ترڅو کورني او بهرني ګواښونه دفع او په وړاندې یې غبرګون وښیي. د افغانستان له غوښتنې سره سم، متحده ایالات په عاجله توګه د افغانستان د امنیت پر وړاندې د ګواښونو د دفع لپاره د افغانستان له ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو سره خپل هغه ملاتړ مشخصوي چې چمتووالی ورته لري.

۴. دواړه لوري دا مني چې د تروریزم په وړاندې په ګډه جګړه کې د القاعدې او ورپورې تړلو ډلو د ماتې لپاره د متحده ایالاتو پوځي عملیات کېدای شي مناسب وي. دواړه لوري موافق دي چې د دغو اهدافو د تحقق لپاره د افغانستان او متحده ایالاتو د ملي ګټو د خوندي ساتلو په نیت د متحده ایالاتو له یو اړخیزو پوځي عملیاتو پرته خپلو نږدې همکاریو او همغږیو ته دوام ورکړي. د تروریزم پر خلاف د متحده ایالاتو پوځي عملیات د تروریزم پر وړاندې د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د عملیاتو د بشپړولو او ملاتړ لپاره دي چې د افغانستان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو په رهبرۍ او دغه راز د افغانستان ملي حاکمیت ته په پوره درناوي او د افغانستان د خلکو او د دوی د کورونو خوندیتوب او امنیت ته په پوره پام، ترسره کېږي.

۵. په دې ماده کې د درج شویو فعالیتونو او عملیاتو او د دواړو لوریو د توافق وړ نورو اهدافو او ماموریتونو د پرمخ بېولو لپاره او په دې قرارداد کې له درج شویو صلاحیتونو سره سم، د متحده ایالاتو ځواکونه په افغانستان کې د دې قرارداد د شرایطو له مخې د خپل حضور پر مهال د اړتیا په صورت کې د خپل ملاتړ په شمول، کولای شي ترانزیتي، حمایوي او نور اړوند فعالیتونه او چارې ترسره کړي چې په دې قرارداد کې ورنه یادونه شوې ده او یا په دوه اړخیزه توګه به پرې موافقه وشي.

۶. دغه قرارداد، د ټولو ضمایمو او نورو تطبیقي توافقاتو یا تدابیرو په شمول، په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو د حضور او فعالیت لپاره لازم صلاحیتونه ورکوي او هغه شرایط او احکام تعریفوي چې د دوی د حضور څرنګوالی او شرایط او دغه راز په

درپیمه ماده

قوانین

۱. د متحده ایالاتو د ځواکونو او ملکي برخې غړي مکلف دي چې د افغانستان اساسي قانون او نورو قوانینو ته درناوی وکړي او له هغو فعالیتونو څخه چې د دې قرارداد له روحیې سره په مغایرت کې وي، په ځانګړې توګه د افغانستان په خاوره کې د سیاسي فعالیتونو له ترسره کولو څخه ډډه وکړي. دا د متحده ایالاتو د ځواکونو د چارواکو مکلفیت دی چې د دغه هدف د تحقق لپاره لازم اقدامات ترسره کړي.

۲. په دې قرارداد کې د دواړو لوریو اړوند مکلفیتونه او نور راتلونکي تدابیر، له نړیوالو قوانینو سره سم د افغانستان له حاکمیت او د دواړو لوریو د مشروع دفاع له حق سره تعارض نلري. د دې قرارداد د تطبیق اړوندې همکاری او فعالیتونه له نړیوالو قوانینو سره په مطابقت کې د دواړو لوریو له اړوندو تعهداتو او مکلفیتونو سره سم، ترسره کیږي.

۳. په استثنا د فوق العاده غیرعادي حالاتو چې په هغو کې د متحده ایالاتو د اتباعو ژوند او ځان له عاجل خطر سره مخامخ وي، د متحده ایالاتو ځواکونه د نظامي عملیاتو او تلاشي په هدف د افغانانو کورونو ته داخلېدلای نشي. د متحده ایالاتو ځواکونه د افغانستان اتباع نشي نیولای او نه یې هم زنداني کولای شي. د متحده ایالاتو ځواکونه په افغانستان کې زندان نشي ساتلای او نه یې هم اداره کولای شي.

څلورمه ماده

د افغانستان د امنیتي او دفاعي قابلیتونو لوړتیا او پایښت

۱. د افغانستان ملي حاکمیت ته په بشپړ درناوي، دواړه لوري په امنیتي برخو کې

ځواک، منابعو او امکاناتو په محدوده کې، بشپړه ونډه اخلي. افغانستان د خپلو ملي دفاعي او امنيتي ظرفيتونو د ارتقأ او پايښت لپاره ټول لازم اقدامات ترسره کوي.

۳. تر کومه ځايه چې "د ستراتيژيکو همکاريو موافقتنامه" ايجابوي او هم د هغو تعهداتو مطابق چې په ۲۰۱۲ کال (۱۳۹۱ لمريز کال) د شيکاګو په سرمشريزه کې شوي، متحده ايالات مکلفيت لري چې د افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د روزنې، تجهيز، مشورې او پايښت لپاره هر کال د مالي منابعو لټه وکړي ترڅو افغانستان وکولای شي په مستقله توګه د کورنيو او بهرنيو ګواښونو په وړاندې ځان خوندي کړي او خپله دفاع وکړي او د دې په يقيني کولو کې مرسته وکړي چې تروريستان بيا هېڅکله هم و نه شي کولای د افغانستان په خاوره کې رخنه وکړي او افغانستان، سيمه او نړۍ يو وار بيا وګواښوي. متحده ايالات د شيکاګو د سرمشريزې تعهداتو ته په پام، له افغانستان سره د مالي منابعو د مقدار په اړه چې د دې قرارداد د اهدافو د تطبيق لپاره لازم وي، مشوره کوي او د پورتني مکلفيت په اجراء کولو کې د دغو مشورو نتايج په پام کې نيسي. د افغانستان کلنيو لومړيتوبونو ته په کتو سره، متحده ايالات د افغانستان د بودجوي ميکانيزم له لارې ضروري مالي منابع برابروي چې د اړوندو افغان ادارو له خوا د شفافيت او حساب ورکونې د معيارونو د تطبيق او د تدارکاتو، تفتيش او نظارت په برخه کې له نړيوالو منل شويو تګلارو سره سم، مديريت او مصرفيږي.

٤. د افغانستان د امنيت د تامينولو په هدف، دواړه لوري دا اهميت درک کوي چې د افغانستان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونه بايد په لازمو تجهيزاتو او تسليحاتو سمبال وي. دې هدف ته د رسېدو لپاره، متحده ايالات د افغانستان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو ته د تجهيزاتو او تسليحاتو په برابرولو کې له افغانستان سره خپلو همکاريو ته دوام ورکوي.

٥. افغانستان او متحده ايالات کولای شي له نورو هېوادونو سره څرنګه چې په دوه اړخيزه توګه به پرې موافقه وشي، د افغانستان د ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د پياوړتيا په برخه کې، د تجهيز په شمول، همکاري او همغږي وکړي.

٦. متحده ايالات موافقه کوي چې د افغانستان او سيمې د امنيت په ټينګولو کې د اغېزمنې ونډې په منظور، د افغانستان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د قابليتونو په لوړولو کې له افغانستان سره د غيرناټو عمده متحد په توګه، همکاري وکړي.

تسلیحاتو، تاسیساتو، عملیاتي دوکتورین او ادارو د ودې په برخه کې همغږي رامنځته کوي ترڅو د معیاري کېدو او له ناټو سره د همکارۍ بین العملیاتي قابلیت ترلاسه کړي. دغه همغږي د خپلو منابعو د لارې له غیر ناټو هېوادونو څخه د افغانستان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو لپاره د افغانستان له خوا د تجهیزاتو او تسلیحاتو د تدارک مخه نه نیسي.

پنځمه ماده

د دفاعي او امنیتي همکاریو میکانیزمونه

۱. دواړه لوري موافقه لري چې د افغانستان - متحده ایالاتو د دفاعي او امنیتي همکاریو کاري ډلې ته چې "د ستراتیژیکو همکاریو د موافقتنامې" پر اساس رامنځته شوې ده، لارښوونه وکړي چې:

الف: د دې قرارداد له اهدافو او محدودې سره سم، له موجودو امنیتي او دفاعي منابعو څخه د افغانستان د لا زیاتې استفادې او تحلیل لپاره، د مؤثریت مناسب معیارونه رامنځته کړي؛

ب: د دواړو لوریو د اړوندو منابعو د تخصیص د تصمیم نیولو او د افغانستان د دفاعي قابلیتونو د ارتقأ او پایښت په برخه کې د همکارۍ لپاره، له وضع شویو معیارونو سره په مقایسه کې د عملي اجراآتو شپږ میاشتنۍ ارزونې ترسره کړي؛

ج: د دې قرارداد له هدف او محدودې سره سم، یو طرزالعمل ترتیب کړي چې د هغې له لارې د افغانستان په وړاندې د کورنیو او بهرنیو ګواښونو په اړه په موقع، دقیق، اغېزمنې او ګټورې ارزونې ترسره کړي؛ او

د: د معلوماتو او استخباراتي اطلاعاتو د شریکولو او ارزیابۍ د کچې د لوړولو لپاره مشخصې سپارښتنې وکړي.

۲. د ځانګړو خوندي ارتباطي کانالونو د رامنځته کولو په پام کې نیولو په شمول، له یو یا سره د ګواښونو په اړه د مشورې توان د پیاوړتیا دوام، د دواړو لوریو ګډ هدف دی

شپږمه ماده

بهرنی تېری

۱. د ملګرو ملتونو د منشور پر خلاف، افغانستان د بهرنیو دولتونو او د بهرنیو په ملاتړ د بهر مېشتو وسله والو ډلو له خوا د تېري او د قوې کارونې د نورو ډولونو، هدف ګرځېدلی دی. د دې قرارداد په محدوده کې، دواړه لوري د افغانستان د ځکمنی بشپړتیا یا سیاسي خپلواکی پر وړاندې د دا ډول وسله والې قوې یا ګواښونو، د هر بل دولت یا نورو وسله والو ډلو لخوا له وسله والو ډلو څخه د ملاتړ او دوی ته د پټنځایونو او وسلو د برابرولو په کلکه مخالفت کوي. دواړه لوري موافق دي چې د افغانستان د ځمکنی بشپړتیا، ملي حاکمیت یا سیاسي خپلواکی پر وړاندې د دا ډول ګواښونو پرخلاف د افغانستان د دفاعي قابلیتونو په لوړولو کې همکاري وکړي.

۲. متحده ایالات د افغانستان د ملي حاکمیت، خپلواکی او ځمکنی بشپړتیا پر وړاندې د هر راز بهرني تېري او یا د بهرني تېري ګواښ ته د جدي اندېښنې په سترګه ګوري او دا مني چې دا ډول تېری کولای شي د افغانستان، سیمې او نړۍ په سوله او ثبات کې د دواړو لوریو ګډې منافع تهدید کړي.

۳. دواړه لوري په منظمه توګه د بالقوه سیاسي، دیپلوماتیکو، پوځي او اقتصادي اقداماتو په اړه مشورې کوي چې دا کار کولای شي د داسې بهرني تېري او یا د افغانستان په وړاندې د بهرني تېري د ګواښ پر مهال د مناسب غبرګون یوه برخه جوړه کړي. د دغو مشورو په رڼا کې، دواړه لوري د سیاسي، دیپلوماتیکو، پوځي او اقتصادي اقداماتو د یو لیست د ترتیب په لټه کې کیږي.

۴. د بهرني تېري او یا د افغانستان په وړاندې د بهرني تېري د ګواښ په صورت کې، دواړه لوري په عاجله توګه د مناسب غبرګون د ښوولو لپاره د دواړو لوریو د اساسي قوانینو د طرزالعملونو مطابق د موجوده سیاسي، دیپلوماتیکو، پوځي او اقتصادي اقداماتو د په پام کې نیولو په شمول چې په دوه اړخیزه توګه به مشخص شي او په دریېمه فقره کې یې د لیست د ترتیب یادونه شوې، مشورې کوي.

ترتیب سره په کابل او واشنګټن کې د دواړو هېوادونو سفیرانو ترمنځ مشورې د اعتبار وړ ګڼل کیږي.

ب: اما په بېړنیو او ضروري حالاتو کې، دا ډول هر اړخیز طرزالعملونه د نورو کانالونو یا میکانیزمونو له لارې، له یو بل سره د مشورو لپاره د دواړو لوریو امکانات، نه متاثر کوي او نه یې هم محدودوي.

۶. دواړه لوري موافق دي چې د افغانستان - متحده ایالاتو د دفاعي او امنیتي همکاریو کاري ډلې ته هدایت ورکړي ترڅو دغه ماده، د هر اړخیزو طرزالعملونو د ترتیب په شمول، په اغېزمنه توګه تطبیق کړي او د هغو اقداماتو پر لیست چې له دریېمې فقرې سره سم ترتیبیږي، په منظم ډول بیا کتنه وکړي.

اوومه ماده

له منل شویو تأسیساتو او ساحو څخه استفاده

۱. د لومړۍ مادې له اوومې فقرې سره سم، افغانستان یوازې د دې قرارداد د اهدافو او مندرجو احکامو د تطبیق په منظور، د افغانستان د ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د قطعاتو او د سیمو د خلکو موقعیت ته په پام سره، منل شویو تأسیساتو او ساحو ته د لاسرسي او استفادې زمینه برابروي. د نورو مقاصدو لپاره دا ډول منل شویو تأسیساتو او ساحو ته لاسرسی او استفاده، د دواړو لوریو ترمنځ د دوه اړخیزې موافقې پر اساس ترسره کیږي.

۲. د دې قرارداد پر اساس، افغانستان د متحده ایالاتو ځواکونو ته اجازه ورکوي چې د منل شویو تأسیساتو او ساحو دننه د نویو ساختماني کارونو د حق په شمول، هغه ټول حقونه او قانوني صلاحیتونه چې د دوی د استفادې، اداري، دفاع او کنټرول لپاره ضروري وي، وکاروي. متحده ایالات کولای شي دا ډول ساختماني کارونه د ځواکونو یا ملکي برخې د غړو په واسطه او یا هم د قرارداد له لارې ترسره کړي.

لپاره چمتو شوي دي. دواړه لوري هغو منل شويو تأسيساتو او ساحو ته چې د متحده ايالاتو ځواکونو د ځانګړې استفادې لپاره برابرې شوي، د افغان چارواکو د لاسرسي لپاره په دوه اړخيزه توګه منل شوي طرزالعملونه رامنځته کوي. دا ډول طرزالعملونه او لاسرسی د متحده ايالاتو د ځواکونو عملياتو او امنيتي اړتياوو ته په کتو سره تطبيق کيږي. د دې په منلو سره چې د اړتيا په وخت کې د متحده ايالاتو ځواکونه کولای شي د منل شويو تأسيساتو او ساحو په دننه او مجاوريت کې د خپلو ځواکونو لپاره محافظوي فعاليتونه ترسره کړي، د افغانستان ملي حاکميت ته په پوره درناوي او د افغان وګړو امنيت او مصوونيت ته په بشپړ پام سره، دواړه لوري موافقه کوي چې د ځواکونو د محافظت لپاره خپل اړوند پلانونه همغږي او توحيد کړي ترڅو د متحده ايالاتو د ځواکونو امنيت تامين شي. د دې هدف د تحقق لپاره، د متحده ايالاتو ځواکونه د افغانستان له قوانينو او د متحده ايالاتو د ځواکونو له محاربوي قواعدو سره سم، افغان ملکي وګړي او د دوی کورونه نه په نښه کوي.

۴. د دې قرارداد د هدف او محدودې د تحقق په خاطر، د افغانستان د ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو د روزنې، تجهيز، مشورې او پايښت په موخه په ځانګړي توګه د متحده ايالاتو هڅو ته په پام سره، افغانستان د متحده ايالاتو لپاره ټول منل شوي تأسيسات او ساحې له لګښت پرته برابروي.

۵. که دواړه لوري په بل ډول موافقه ونه کړي، د متحده ايالاتو ځواکونه په هغو منل شويو تأسيساتو او ساحو کې چې د دوی د استفادې لپاره ځانګړې شوي وي، د ودانولو، پراختيا، ادارې، حفظ او مراقبت د لګښتونو مسوليت په غاړه لري. که چېرې د دواړو لوريو له خوا په بل ډول موافقه نه وي شوي، په هغو منل شويو تأسيساتو او ساحو کې چې د ګډې استفادې لپاره ځانګړې شوي او يا هم د متحده ايالاتو د ځواکونو او د افغانستان د ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو او يا نورو ارګانونو لخوا په بله بڼه په ګډه کارول کيږي؛ د ودانولو، پراختيا، ادارې، حفظ او مراقبت لګښتونه د هغوی د استفادې په تناسب پر دوی وېشل کيږي.

۶. متحده ايالات خپله ژمنه تائيدوي چې د خپلو پاليسيو په تطبيق کې د افغانستان د چاپېريال، روغتيا او د حفاظتي اړوندو قوانينو، مقرراتو او معيارونو درناوی کوي. په منل شويو تأسيساتو او ساحو کې د متحده ايالاتو د ځواکونو فعاليتونه او عملياتي چارې د بشري روغتيا، خوندتوب او طبيعي چاپېريال ساتنې لپاره د افغانستان نافذه قوانينو او مقرراتو ته په

ساحو کې د لرغونو او کلتوري میراثونو د آثارو د رابرسېره کېدو په صورت کې، د متحده ایالاتو ځواکونه مکلف دي چې د افغانستان اړوندو ادارو ته د ګډ کمیسیون له لارې په سملاسي توګه خبر ورکړي.

اتمه ماده

د مالکیت حق

۱. د متحده ایالاتو ځواکونه هر هغه منل شوي تأسیسات او ساحې یا د هغوی ځینې اړوندې برخې، تعمیرونه، غیر منقول جوړښتونه او برخې؛ د ودانیو، تغییر ورکړل شویو یا بیارغول شویو ودانیو په شمول چې د متحده ایالاتو ځواکونو د استفادې وړ نه وي، افغان لوري ته بېرته سپاري. د متحده ایالاتو ځواکونه افغان لوري ته د دا ډول منل شویو تأسیساتو او ساحو د بېرته سپارنې لپاره د دغو تاسیساتو او ساحو، دورهیي ارزونې ترسره کوي. دواړه لوري یا د دوی اجرائیوي استازي د منل شویو تأسیساتو او ساحو د بېرته سپارنې پر شرایطو مشوره کوي. دواړه لوري موافق دي چې د چاپېریال ساتنې، بشري روغتیا او خوندیتوب لپاره د غیروقایوي تګلارې پر ځای وقایوي تګلاره غوره کړي. دواړه لوري مني چې د متحده ایالاتو پالیسي او تګلارې داسې طرح شوي چې له دا ډول زیانونو او خطرونو څخه مخنیوی کوي او د افغانستان یا متحده ایالاتو غوره محافظوي معیارونه عملي کوي. د متحده ایالاتو د ځواکونو له پالیسیو سره سم، د متحده ایالاتو ځواکونه د چاپېریال دککړتیاوو د منفي تاثیراتو د له منځه وړلو لپاره چې د انسانانو په روغتیا او خوندیتوب باندې د پام وړ ناوړه اغېزه کوي او په منل شویو تأسیساتو او ساحو کې د متحده ایالاتو ځواکونو د فعالیتونو له امله رامنځته کیږي، سملاسي اقدام کوي.

۲. په منل شویو تأسیساتو او ساحو کې ټول تعمیرونه، غیر منقول جوړښتونه او برخې؛ د مستعملو ودانیو، تغییر ورکړل شویو یا بیارغول شویو ودانیو په شمول، د متحده ایالاتو د ځواکونو، د متحده ایالاتو د قراردادیانو او د متحده ایالاتو د قراردادیانو د کارکوونکو او د نورو د ځانګړې استفادې لپاره چې په دوه اړخیزه توګه یې موافقه شوې، تاکا

۳. د متحده ایالاتو ځواکونه او قراردادیان د هغو تجهیزاتو، توکو، اکمالاتو، منقولو جوړښتونو او نورو د انتقال وړ ملکیتونو مالکیت لري چې دوی په افغانستان کې د خپلو ځواکونو او د هغوی د قراردادیانو د حضور په تړاو د افغانستان په خاوره کې نصب، وارد یا هم اخیستي دي. دواړه لوري د متحده ایالاتو قوانینو او مقرراتو په محدوده کې، افغان لوري ته د خپلو اضافي تجهیزاتو د انتقال او یا خرڅلاو په اړه له یو بل سره مشوره کوي.

نهمه ماده

د تجهیزاتو او تسلیحاتو زېرمه او ځای پر ځای کول

۱. افغانستان د متحده ایالاتو ځواکونو ته اجازه ورکوي چې خپل تجهیزات، اکمالات او تسلیحات په منل شویو تأسیساتو او ساحو او نورو هغو موقعیتونوکې چې په دوه اړخیزه توګه پرې موافقه شوې، ځای پر ځای کړي. د متحده ایالاتو ځواکونه د افغانستان په خاوره کې د زېرمه شویو تجهیزاتو، اکمالاتو او توکو پر استفاده او انتقال مالکیت او کنټرول لري او دغه راز د دې حق لري چې دا ډول تجهیزات، اکمالات او تسلیحات د افغانستان له خاورې څخه بهر وباسي.

۲. د متحده ایالاتو ځواکونه خپله ژمنه تائیدوي چې دوی د افغانستان د خوندیتوب قوانینو، مقرراتو او معیارونو درناوی کوي. د متحده ایالاتو ځواکونه د خپلو هغو تجهیزاتو، تدارکاتو او توکو د حفاظت او خوندي زېرمه کولو لپاره ټول لازم تدابیر اتخاذوي چې د متحده ایالاتو د نافذه قوانینو او مقرراتو پر اساس د ماهیت له اړخه خطرناک دي. د متحده ایالاتو ځواکونه له مربوطه پالیسیو سره سم، د متحده ایالاتوځواکونه (۱) په منل شویو تأسیساتو او ساحو کې پاتې شوني پاکوي او (۲) په منل شویو تأسیساتو او ساحو کې د خپلو ځواکونو د فعالیتونو له امله د چاپېریال د ککړتیا په وجه د انسانانو پر روغتیا او خوندیتوب د پام وړ ناوړه اغېزې د رفع لپاره فوري اقدام کوي.

۳. په پاریس کې د ۱۹۹۳ میلادي کال د جنوري په ۱۳مه (د ۱۳۷۱ لمریز کال

دواړه لوري تائيدوي چې متحده ايالات په افغانستان کې اتومي وسلې نه ځای پرځای او نه يې هم زېرمه کوي.

لسمه ماده

د وسايطو، بېړيو او الوتکو تګ راتګ

۱. افغانستان پر خپل هوايي حريم، قلمرو او اوبو بشپړ حاکميت لري. د افغانستان د هوايي حريم او ټرانسپورت مديريت د اړوندو افغان ادارو له خوا ترسره کيږي.

۲. د افغانستان ملي حاکميت ته په بشپړ درناوي او د دې قرارداد له هدف او محدودې سره سم، افغانستان د متحده ايالاتو دولتي او ملکي الوتکو ته چې د متحده ايالاتو ځواکونو له خوا او يا هم په ځانګړي توګه د دوی لپاره د افغانستان په خاوره کې فعاليت کوي؛ د افغانستان په خاوره کې د ننوتلو، وتلو، عبوري الوتنو، کښيناستلو، پورته کېدلو، هوايي تېل اخيستلو او د الوتنو اجازه ورکوي. د متحده ايالاتو دولتي او ملکي الوتکې چې د متحده ايالاتو د ځواکونو له خوا يا هم په ځانګړي توګه د دوی د قواوو لپاره فعاليت کوي، د عبوري الوتنو يا هوايي لارښوونو د محصول يا هم د افغانستان په حکومتي هوايي ډګرونو کې د پارکينګ د محصول او يا نورو لګښتونو پر ورکړې مکلف نه دي. د متحده ايالاتو دولتي الوتکې په افغانستان کې د مخکيني اطلاع د الزاميتونو په شمول د هوايي مصوونيت او تګ راتګ اړوندو قواعدو ته په پوره احترام، فعاليت کوي. هغه ملکي الوتکې چې د متحده ايالاتو ځواکونو يا هم په ځانګړي توګه د هغوی لپاره فعاليت کوي افغانستان ته د ننوتلو او وتلو لپاره د مخکيني اطلاع پر هغو الزاميتونو مکلف دي چې د افغانستان د ملکي هوايي چلند اړوندو ادارو له خوا ضروري ګڼل کيږي.

۳. د افغانستان ملي حاکميت ته په بشپړ درناوي او د دې قرارداد له هدف او محدودې سره سم، افغانستان د متحده ايالاتو بېړيو او وسايطو او هغو بېړيو او وسايطو ته چې د متحده ايالاتو ځواکونو له خوا يا هم په ځانګړي توګه د دوی لپاره د افغانستان په خاوره کې

٤. د متحده ایالاتو دولتي الوتکې، بېړۍ او وسایط د متحده ایالاتو د ځواکونو د چارواکو له موافقې پرته له ورختلو (بورډینګ) څخه معاف دي. د متحده ایالاتو دولتي الوتکې، بېړۍ او وسایط په افغانستان کې د تفتیش، مقرراتو او یا ثبت له الزامیتونو څخه معاف دي، مګر دا چې د مشترک کمیسیون له خوا او یا هم په دې قرارداد کې پرې بل ډول موافقه شوي وي.

٥. د متحده ایالاتو ځواکونه د متحده ایالاتو د الوتکو، وسایطو او بېړیو لپاره د ترلاسه شویو خدماتو په بدل کې له مالیاتو او ورته محصول پرته، مناسب قیمت ورکوي.

٦. دواړه لوري توافق لري چې د دې مادې د تطبیق لپاره طرزالعملونه رامنځته کړي. د اړتیا په صورت کې، دواړه لوري پر دا ډول طرزالعملونو بیا کتنه کوي او هغه تجدیدوي. په دغو طرزالعملونو کې د کومې ستونزې د راپیدا کېدو په صورت کې، دواړه لوري د ګډ کمیسیون له لارې په سملاسي توګه د ستونزې د حل لپاره اقدام کوي.

یوولسمه ماده

د قراردادونو طرزالعملونه

١. د متحده ایالاتو له قوانینو سره سم، د توکو او خدماتو د ترلاسه کولو لپاره د ساختماني چارو په شمول، د متحده ایالاتو ځواکونه کولای شي د افغانستان په خاوره کې قراردادونه وکړي. افغانستان مني چې د متحده ایالاتو ځواکونه د دا ډول قراردادونو په اعلان، ورکړې او مدیریت کې د متحده ایالاتو د قوانینو او مقرراتو په رعایت مکلف دي. د متحده ایالاتو ځواکونه هڅه کوي چې د متحده ایالاتو له قوانینو او مقرراتو سره سم د قراردادونو په ورکړې کې له افغان تدارکاتي شرکتونو څخه چې توکي، محصولات او خدمات برابروي، تر ډېره ممکنه حده کار واخلي.

٢. د متحده ایالاتو قراردادیان په افغانستان کې په راجستر کولو مکلف دي او

۳. د شفافیت اهمیت په درک سره، د معلوماتو د شریکولو او مشورو له لارې څرنګه چې په دوه اړخیزه توګه به پرې موافقه وشي، د متحده ایالاتو ځواکونه پر هغو اندېښنو او منازعو لازم غورکوي چې د افغان ادارو له خوا د متحده ایالاتو قراردادیانو په اړه، مطرح کیږي. د قراردادونو د عقد له ناسمو تګلارو او ناوړې استفادې نه د مخنیوي په هدف، دواړه لوري به په افغانستان کې د قراردادونو د طرزالعملونو د شفافیت، حساب ورکونې او مؤثریت د لا ښه والي لپاره په ګډه کار وکړي.

٤. د هر لوري د غوښتنې پر اساس، هغه ستونزې چې د دې مادې په تطبیق کې رامنځته کیږي، د هغو ستونزو په شمول چې د متحده ایالاتو د قراردادیانو او د متحده ایالاتو د قراردادیانو د کارکوونکو په فعالیتونو پورې اړه لري، دواړه لوري د ګډ کمیسیون له لارې په سملاسي توګه مشوره کوي.

دولسمه ماده

تأمینات او مخابرات

۱. د متحده ایالاتو ځواکونه کولای شي د منل شویو تأسیساتو او ساحو او یا هم د نورو موافقه شویو ځایونو لپاره د اوبو او بریښنا په شمول نور خدمات برابر کړي. د دا ډول خدماتو د تولید او تهیې لپاره په دوره‌یي ډول ګډ کمیسیون ته خبرتیا ورکول کیږي او ورسره همغږي کیږي. د متحده ایالاتو ځواکونه او د متحده ایالاتو قراردادیان کولای شي د افغانستان له اوبو، بریښنا، او نورو عامه خدماتو څخه د وضع شویو شرایطو او مقرراتو پر اساس استفاده وکړي او له لږو مالیاتو، مشابه یا اړوندو لګښتونو سره هغه قیمت تادیه کړي چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه یې تادیه کوي، مګر دا چې بل ډول دوه اړخیزه موافقه شوې وي. د متحده ایالاتو د ځواکونو یا د متحده ایالاتو د ځواکونو د قراردادیانو لګښتونه د دا ډول عامه خدماتو په بدل کې د هغوی د استفادې په تناسب وضع کیږي.

۲. افغانستان دا منی چې د متحده ایالاتو ځواکونه په افغانستان کې له مخابراتي

مخابراتي فريکونسيو څخه استفاده وکړي چې د افغان ذيصلاح ادارو له خوا د دغه هدف لپاره ځانګړي شوي دي. د متحده ايالاتو لپاره له مخابراتي فريکونسيو نه استفاده وړيا ده.

۳. په افغانستان کې پر فريکونسيو د افغانستان د مالکيت او د هغو د ځانګړي کولو د صلاحيت په منلو سره او له دوه اړخيزې مختلوونکي مداخلې څخه د مخنيوي په هدف، متحده ايالات په افغانستان کې د خپلو ځواکونو لپاره د فريکونسيو د ځانګړي کولو په برخه کې د افغانستان له اړوندو ادارو سره همغږي رامنځته کوي. متحده ايالات د هغو فريکونسيو درناوی کوي چې د محلي کاروونکو له خوا کارول کيږي يا هغوی ته ساتل شوي دي.

٤. د متحده ايالاتو ځواکونه بايد له مخابراتي وسايلو څخه داسې استفاده وکړي چې د افغانستان د حکومت يا هم د نورو سازمانونو مجاز راډيويي فريکونسيو يا مخابراتي تجهيزاتو کارونه اخلال نه کړي.

ديارلسمه ماده

د پرسونل حقوقي حيثيت

۱. د خپل حاکميت په ساتنې سره، افغانستان د متحده ايالاتو د ځواکونو او د ملکي برخې پر غړو باندې د دوی د اړوندو چارواکو د قضايي او غيرقضايي تدابيرو په شمول د انضباطي کنټرول، ځانګړی اهميت مني له همدې امله، افغانستان موافق دی چې متحده ايالات پر ياد شويو افرادو چې د افغانستان په خاوره کې د جنايي يا مدني جرم مرتکب کيږي، د قضايي صلاحيت ځانګړی حق لري. افغانستان متحده ايالاتو ته د دې اجازه ورکوي چې په داسې مواردوکې د افغانستان په خاوره کې چې څرنګه لازم وي، محکمه دايره او يا هم ځينې نور انضباطي اقدامات ترسره کړي.

۲. د افغانستان د غوښتنې پر اساس، متحده ايالات افغان لوري ته د تحقيقاتو او عدلي تعقيب د وروستيو نتايجو په شمول، د افغانانو پر وړاندې د متحده ايالاتو د ځواکونو او د ملکي برخې د غړو له خوا د ترسره شويو جرمونو د جنايي محاکماتو د پيل په اړه،

٤. متحده ایالات دا مني چې د قانون د تنفیذ افغان اداري، د افغانستان د قوانینو د انفاذ او نظم د ټینګښت او د خلکو د ساتنې په برخه کې مهم رول لري. د متحده ایالاتو د ځواکونو یا د ملکي برخې پر کوم غړي د جنایت د ارتکاب د شک په صورت کې، د افغانستان اړوند چارواکي په سملاسي توګه د متحده ایالاتو ځواکونو چارواکو ته اطلاع ورکوي ترڅو د متحده ایالاتو د ځواکونو چارواکي په دې اړه چټک اقدام وکړي. د افغانستان اداري د متحده ایالاتو د ځواکونو اود ملکي برخې غړي نه نیسي او نه یې هم توقیفوي. که چېرې د متحده ایالاتو د ځواکونو او د ملکي برخې غړي د افغانستان د قانون تنفیذي ارګانونو یا نورو افغان ادارو له خوا د کوم دلیل په وجه ونیول یا توقیف شي، په سملاسي توګه د متحده ایالاتو د ځواکونو چارواکو ته سپارل کیږي.

٥. افغانستان او متحده ایالات موافقه لري چې د ځواکونو او د ملکي برخې غړي د متحده ایالاتو له څرګند رضایت پرته نړیوالې محکمې، بل نهاد یا دولت ته سپارل کېدای او انتقالېدای نه شي.

٦. افغانستان د متحده ایالاتو پر قراردادیانو او د قراردادیانو پرکارکوونکو باندې د قضایي صلاحیت حق لري.

څوارلسمه ماده

د وسلو حمل او د یونیفورم اغوستنه

١. د دې قرارداد له مخې په افغانستان کې د دوی د حضور پر مهال، د ځواکونو او ملکي برخې غړي کولای شي د اړتیا په صورت کې له ورکړل شویو اوامرو سره سم د دندو د ترسره کولو لپاره له ځان سره وسلې ولري او وپې ګرځوي. د دارنګه اوامرو د صادرېدو په صورت کې، د متحده ایالاتو د ځواکونو چارواکي د عامه خوندیتوب د ملاحظاتو په شمول، د وسلو د ګرځونې لپاره د مناسبو ځایونو په اړه د اړوندو افغان چارواکو نظرونه په پام کې نیسي. د افغان چارواکو نظرونو ته په پام سره، د متحده ایالاتو

۲. دواړه لوري موافقه کوي چې د متحده ایالاتو قراردادیان او د متحده ایالاتو د قراردادیانو کارکوونکي د پوځي یونیفورم د اغوستو اجازه نلري، اما د افغانستان له قوانینو او مقرراتو سره سم یوازې وسلې ګرځولای شي.

۳. د متحده ایالاتو د امنیتي خدماتو قراردادیان د افغانستان د قوانینو او مقرراتو د ټولو اړوندو الزامیتونو په رعایتولو مکلف دي.

٤. د یوه لوري د غوښتنې په صورت کې، دواړه لوري د هغو ستونزو په اړه چې د دې مادې د تطبیق له امله رامنځته کیږي د ګډ کمیسیون له لارې سملاسي مشوره کوي.

پنځلسمه ماده

دخول او خروج

۱. د ځواکونو او ملکي برخې غړي د هویت د هغو کارتونو په اعتبار چې د متحده ایالاتو له خوا ورته صادر شوي وي، کولای شي افغانستان ته په منل شویو تأسیساتو او ساحو کې چې په (الف) ضمیمه کې راغلي او د دخول او خروج په ځانګړیو رسمي ځایونو کې چې په (ب) ضمیمه کې راغلي او یا هم په نورو ساحو کې چې د دواړو لوریو له خوا پرې موافقه شوې، په جمعي او انفرادي توګه تګ راتګ وکړي. دغه غړي پاسپورتونو او ویزو ته اړتیا نه لري. دغه افراد په افغانستان کې د بهرنیو اتباعو د ثبت او کنټرول له اړوندو قوانینو او مقرراتو څخه معاف دي.

۲. د متحده ایالاتو قراردادیان او د قراردادیانو کارکوونکي کولای شي افغانستان ته د دخول او خروج په هغو ساحو کې چې د دې مادې په ۱ فقره کې تشریح شوي، تګ راتګ وکړي. د افغانستان د قوانینو پر اساس دغه افراد پاسپورتونو او ویزو ته اړتیا لري. که چېرې د متحده ایالاتوکوم قراردادي یا هم د متحده ایالاتو د قراردادیانو کوم کارکوونکی ویزې ته اړتیا ولري او د ویزې غوښتنه وکړي، د کثیرالمسافرت دخولي او خروجي ویزه چې د اعتبار موده یې له یو کال څخه کمه نه وي، ورکول کیږي. د افغانستان اړوندې

رامنځته کړي چې له مخې يې د متحده ايالاتو د قراردادیانو دکارکوونکو لپاره، افغانستان ته له رارسېدو سره سم ویزې صادرې شي.

۳. متحده ایالات له افغانستان څخه د ځواکونو او یا د ملکي برخې د هر غړي د اخراج د غوښتنې په اړه د افغانستان د حاکمیت حق مني. د افغانستان د اړوندو ادارو د غوښتنې په صورت کې، د متحده ایالاتو د ځواکونو چارواکي له افغانستان څخه د داسې کسانو د سملاسي اخراج لپاره لازم اقدامات ترسره کوي.

٤. دواړه لوري موافق دي چې د دې مادې د تطبیق لپاره طرزالعملونه جوړ کړي. ګډ کمیسیون په دوره‌یي توګه پر طرزالعملونو بیاکتنه کوي او تجدیدوي یې ترڅو د افغانستان اړوندې ادارې د دې مادې په لومړۍ فقره کې مندرجو ځایونو ته د ځواکونو او یا ملکي برخې د غړو د اسنادو د بررسۍ او همغږۍ په شمول، د دوی د دخول او خروج اړوند مراحل بشپړ کړي. د اړتیا په صورت کې، افغان چارواکي کولای شي د ځواکونو او ملکي برخې د هغو غړو لیستونه ترتیب کړي چې افغانستان ته د منل شویو تأسیساتو او ساحو له لارې تګ راتګ کوي.

شپاړسمه ماده

واردات او صادرات

۱. د متحده ایالاتو ځواکونه او د دوی قراردادیان کولای شي هر ډول تجهیزات، اکمالات، تسلیحات، تکنالوژي، روزنه یا خدمات، افغانستان ته وارد، له افغانستان څخه صادر، بیا صادر، انتقال او یا ترې استفاده وکړي. په دې فقره کې مندرج صلاحیتونه د متحده ایالاتو د قراردادیانو هغه فعالیتونه په بر کې نه نیسي چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو له حضور سره تړاو نه لري. اثباتیه اسناد ضرور دي ترڅو ثابت کړي چې دغه تجهیزات، اکمالات، تسلیحات، تکنالوژي، روزنه یا خدمات د متحده ایالاتو د قراردادیانو لخوا د متحده ایالاتو د ځواکونو لپاره واردیږي، نه د خصوصي تجارتي

تناسب وارد شي. هغه وسایل او توکي چې په دې فقره کې ورته اشاره شوې، هغو کسانو ته چې له مالیې پرته افغانستان ته د داسې توکو د واردولو اجازه نه لري، د خرڅلاو او په بل ډول د انتقال وړ نه دي، مګر دا چې په افغانستان کې دا ډول د مالکیت انتقال د ګډ کمیسیون له خوا د وضع شویو طرزالعملونو سره سم د هر راز مالیاتو یا فیسونو د تادیې په شمول چې د داسې معاملو په نتیجه کې رامنځته کیږي، ترسره شي.

۳. د متحده ایالاتو د ځواکونو چارواکي د افغانستان له اړوندو ادارو سره په ګډه لازم اقدامات ترسره کوي ترڅو د افغانستان لرغوني او کلتوري ارزښتناکه آثار او توکي له هېواده بهر و نه ایستل شي او د متحده ایالاتو د عمومي مرکزي قوماندانۍ د لومړۍ ګڼې حکم مطابق، د متحده ایالاتو ځواکونه الکول، مبتذل تصاویر او فلمونه، غیر قانوني مخدره توکي، شخصي ناریه وسلې او نور قاچاقي مواد او یا هغه توکي چې دواړه لوري به یې پر ممنوعیت موافقه وکړي، د دې مادې د لومړۍ او دوهمې فقرې د احکامو مطابق افغانستان ته نه واردوي.

٤. د دې مادې د لومړۍ او دوهمې فقرې له احکامو سره سم، افغانستان ته د هر ډول اموالو واردول، له افغانستان څخه بهر ته صادرول، بیا صادرول، انتقال او استفاده په افغانستان کې د دې مادې د مندرجو احکامو په استثنا، د ځینو محدودیتونو لکه جواز، تفتیش، تصدیق، د افغانستان د دولتي ادارو له خوا د وضع شویو مالیاتو، ګمرکي محصول یا نورو لګښتونو تابع نه دي. که د افغانستان ادارې د دې مادې د دوهمې فقرې له امتیازاتو څخه د متحده ایالاتو قراردادیانو او یا د متحده ایالاتو د قراردادیانو کارکوونکو پر ناوړې استفادې شکمن شي، افغان اړوندې ادارې حق لري دغه وسایل او توکي چې د افغانستان د ملکي هوایي ډګرونو او یا شخصي وسایطو په ذریعه له سرحدي بندرونو څخه وارد یا صادریږي، تفتیش کړي.

۵. د افغانستان اړوندې ادارې حق لري چې د دې مادې له ۱ او ۲ فقرې سره سم د متحده ایالاتو د قراردادیانو او د متحده ایالاتو د قراردادیانو د کارکوونکو له خوا هر هغه وارد شوی کانتینر وپلټي چې په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو د رسمي یا شخصي استفادې لپاره توکي انتقالوي. که چېرې افغان ذیصلاح چارواکي د متحده ایالاتو د ځواکونو چارواکو ته د دوی د قراردادیانو له خوا د دې مادې له۱ او ۲ فقرې څخه د ناوړه استفادې په اړه معلومات ورکړي، د متحده ایالاتو ځواکونه مکلف دي چې په

٦. د دې قرارداد له احکامو سره سم، د افغانستان بازارونو ته د متحده ایالاتو د ځواکونو لپاره د وارد شویو توکو له راویستلو څخه مخنیوی د دواړو لوریو ګډ هدف دی، د متحده ایالاتو د ځواکونو چارواکي د دې مادې د ۱ او ۲ فقرې له مندرجو صلاحیتونو څخه د ناوړې استفادې د مخنیوی لپاره لازم اقدامات ترسره کوي. دا چارواکي په دې اړه په خپله تحقیقات کوي او همدارنګه د افغانستان له اړوندو ادارو سره د متحده ایالاتو د ځواکونو غړو، د ملکي برخې غړو، قراردادیانو او یا د قراردادیانو د کارکوونکو له خوا د توکو د واردولو، صادرولو، بیا صادرولو، انتقال او بې ځایه کولو لپاره د مشکوکو فعالیتونو په اړه د تحقیق او اثباتیه مدارکو په راټولولو کې مرسته کوي.

۷. د دې مادې له احکامو سره سم، هغه اجناس چې افغانستان ته وارديږي یا په افغانستان کې پیرودل کیږي، د افغانستان د قوانینو او مقرراتو په رعایت سره، باطل کیږي (له استفادې غورځول کیږي).

۸. د هر یو لوري په غوښتنه، دواړه لوري هغه ستونزې چې د دې مادې د تطبیق له امله رامنځته کیږي، باید د ګډ کمیسیون له لارې سملاسي وځېږي او مشوره پرې وکړي.

اوولسمه ماده

د مالیاتو وضع کول

۱. د متحده ایالاتو د ځواکونو له خوا یا هم د دوی په استازیتوب، د اموالو او خدماتو تدارک، په افغانستان کې له هر راز وضع شویو مالیاتو او اړوند محصول څخه معاف دی.

۲. د متحده ایالاتو ځواکونه، د ځواکونو او ملکي برخې د غړو په شمول، په افغانستان کې د هر ډول وضع شویو مالیاتو، نورو مشابه یا اړوند محصول په ورکړه مکلف نه دي.

۳. د متحده ایالاتو قراردادیان مکلف نه دي چې د خپلو فعالیتونو یا له ځواکونو سره د خپل کار د عوایدو چې د اصلي یا فرعي قراردادونو له مخې د دغو ځواکونو په

٤. د متحده ایالاتو د قراردادیانو هغه کارکوونکي چې معمولاً په افغانستان کې مېشت دي او همدارنګه د دې قراردادیانو افغان کارکوونکي د افغانستان له قوانینو او مقرراتو سره سم، د خپلو شخصي عوایدو د مالیاتو په ورکړه مکلف دي.

٥. د متحده ایالاتو قراردادیانو هغه کارکوونکي چې معمولاً په افغانستان کې مېشت نه دي او د متحده ایالاتو د قراردادیانو هغه کارکوونکي چې د افغانستان تابعیت نه لري، د خپلو فعالیتونو د هغو عوایدو چې د متحده ایالاتو له ځواکونو سره یا د هغوی په ملاتړ د اصلي یا فرعي قراردادونو له مخې تر لاسه کوي، د هېڅ ډول مالیې په ورکړه مکلف نه دي.

٦. د دې قرارداد مطابق، د متحده ایالاتو قراردادیان او د متحده ایالاتو د قراردادیانو کارکوونکي د هغو مالیاتو له ورکړې معاف نه دي چې د افغانستان د دولت له خوا د دوی پر هغو فعالیتونو وضع کېږي چې د هغو اموالو او خدماتو له تدارک سره تړاو نه لري کوم چې د اصلي یا فرعي قراردادونو له مخې د متحده ایالاتو ځواکونو ته، د دوی په استازیتوب یا ملاتړ برابریږي.

اتلسمه ماده

د چلولو او مسلکي چارو لایسنسونه

١. افغانستان موافق دی چې د چلولو هغه لایسنسونه او جوازونه له ازموینې او اجورې پرته د اعتبار وړ وګڼي چې د متحده ایالاتو د ادارو له خوا د ځواکونو او یا د ملکي برخې غړو، د متحده ایالاتو قراردادیانو او یا د قراردادیانوکارکوونکو ته د افغانستان په خاوره کې د متحده ایالاتو د ځواکونو لپاره د وسایطو، بېړیو او الوتکو د چلولو په منظور صادر شوي دي.

٢. افغانستان موافقه کوي چې هغه مسلکي لایسنسونه د اعتبار وړ وبولي کوم چې د متحده ایالاتو د ادارو له خوا د ځواکونو یا د ملکي برخې غړو، د متحده ایالاتو

بېړیو، الوتکو او یا نورو وسایلو د چلولو لپاره د اعتبار وړ لایسنسونه او جوازونه لري. ګډ کمیسیون د متحده ایالاتو لخوا د صادر شویو لایسنسونو او جوازونو په اړه د معلوماتو تبادلې لپاره میکانیزمونه رامنځته کوي. د افغانستان د ادارو په غوښتنه، متحده ایالات د دا ډول لایسنسونو صحت او اعتبار تائیدوي.

نولسمه ماده

ماشین لرونکي نقلیه وسایط

افغانستان موافقه کوي چې د متحده ایالاتو د ځواکونو د ادارو له خوا د دوی ځواکونو د رسمي وسایطو لپاره د جواز السیرونو او لایسنسونو صادرول، د اعتبار وړ وګڼي. د متحده ایالاتو د ځواکونو د ادارو د غوښتنې په صورت کې، د افغانستان ادارې د متحده ایالاتو د ځواکونو د رسمي او غیرتکتیکي وسایطو لپاره له لګښت پرته نمبر پلیټونو صادروي. د متحده ایالاتو رسمي، غیرتکتیکي وسایط د افغانستان رسمي نمبر پلیټونه چې په افغانستان کې له نورو مجوزو نمبر پلیټونو سره توپیر نه لري، د لیدلو وړ ځای کې نصبوي.

شلمه ماده

خدماتي فعالیتونه

۱. د متحده ایالاتوځواکونه کولای شي په مستقیمه توګه یا هم د قراردادیانو له لارې په منل شویو تأسیساتو او ساحو کې خدماتي فعالیتونه لکه پوځي پُستي خدمات، بانکي خدمات، عسکري کانتینونه، پلورنځي، تفریحي ځایونه، مخابراتي او نشراتي خدمات رامنځته کړي. متحده ایالات قصد نلري چې د منل شویو تأسیساتو او ساحو د محدودې نه یې

۲. د متحده ایالاتو ځواکونه لازم اقدامات ترسره کوي ترڅو د دوی نشرات، ټلویزیوني پروګرامونه، مطبوعاتي او تفریحي خدمات یوازې په مجازو استفاده کوونکو او منل شویو تاسیساتو او ساحو پورې محدود وي.

۳. خدماتي فعالیتونو ته لاسرسی د متحده ایالاتود مقرراتو پر اساس تنظیمیږي. د متحده ایالاتو د ځواکونو چارواکي لازم اقدامات ترسره کوي ترڅو د خدماتي فعالیتونو، اموالو یا خدماتو له خرڅلاو او بیا خرڅلاو څخه د هغو کسانو له ناوړې استفادې مخنیوي وکړي چې اجازه نلري له دا ډول خدماتي فعالیتونو یا د هغه له برابروونکو څخه ګټه پورته کړي.

٤. د دا ډول خدماتي فعالیتونو اړوندو چارو د ترسره کولو لپاره د افغانستان له خوا د هیڅ ډول لایسنس، جواز یا تفتیش اړتیا نشته.

٥. په دې ماده کې یاد شوي خدماتي فعالیتونه او اړونده مجري نهادونه، د متحده ایالاتو د ځواکونو نه بېلېدونکې برخې دي او له ټولو هغو ګمرکي او مالیاتي معافیتونو برخمن دي چې د دې قرارداد د ۱۶ او ۱۷ مادو د احکامو له مخې د متحده ایالاتو ځواکونه ترې مستفید دي. دغه نهادونه او فعالیتونه د متحده ایالاتو د مقرراتو پر اساس، ساتل او پرمخ بېول کیږي. دا ډول فعالیتونه د مالیاتو او یا نورو فیسونو ټولول او ورکړه نه ایجابوي. یوازې د ځواکونو او د ملکي برخې غړي، د متحده ایالاتو قراردادیان او د متحده ایالاتو د قراردادیانو کارکوونکي او نور احتمالي مجاز استفاده کوونکي دغو خدماتي فعالیتونو ته لاسرسی لري.

٦. پُستي بستې چې د متحده ایالاتو د پوځي پُستي خدماتو له لارې د متحده ایالاتو ځواکونو ته لیږل کیږي، د افغان ادارو له تفتیش، پلټنې او ضبط څخه معاف دي.

۷. ګډ کمیسیون په دوره‌یي ډول پر خدماتي فعالیتونو بیا کتنه کوي او هغه ستونزې رفع کوي چې د دې مادې د تطبیق له امله رامنځ ته کیږي.

یوویشتمه ماده

کوي او تجديدوي يې او هغه ستونزې چې د دغو طرزالعملونو د تطبيق له امله را پيدا کيږي، په سملاسي توګه د ګډ کميسيون له لارې ورته رسيده ګي کوي.

دوه ويشتمه ماده

ادعاوې

۱. هر لوری د يو بل پر وړاندې له هر ډول هغو ادعاوو (د قرارداد له تطبيق څخه د را پيدا شوو ادعاوو پرته) څخه تيريږي چې په افغانستان کې د رسمي دندو د ترسره کولو پر مهال د خساراتو د رامنځ ته کېدو، د شتمنيو له ضايع کېدو او ويجاړېدو، د متحده ايالاتو د ځواکونو، د افغانستان د ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو او په دوی پورې د اړوندو ملکي ځانګو غړو د مرګ ژوبلې له امله منځ ته راځي.

۲. د هغو ادعاوو لپاره چې د دې مادې د لومړی فقرې پر اساس مستثنی شوي نه دي، د متحده ايالاتو د ځواکونو چارواکي د دريم لوري د برحقو ادعاوو د رفع کولو په خاطر مکلف دي په عادلانه او مناسبه توګه هغه خسارې جبران کړي چې د متحده ايالاتو د ځواکونو او ملکي برخې د غړيو د رسمي دندو د ترسره کولو او د غير محاربوي فعاليتونو له کبله د پېښو د رامنځ ته کېدو پر مهال، د دوی د غفلت يا تېروتنې له امله رامنځ ته کيږي. دا ډول ادعاوې د متحده ايالاتو د ځواکونو د چارواکو له خوا د متحده ايالاتو له قوانينو او مقرراتو سره سم او د افغانستان قوانينو، رواجونو او دودونو ته په جدي پام سره، په سملاسي توګه طی مراحل او رفع کيږی.

۳. د دريم لوري د ادعاوو په رفع کولو کې، د متحده ايالاتو د ځواکونو چارواکي، د تر سره شويو تحقيقاتو هر هغه راپور يا نظرونه په پام کې نيسي چې د افغان چارواکو له خوا هغوی ته د خساراتو د اندازې او د جبران د مسؤوليت په اړه وړاندې کيږي.

٤. د قراردادونو د اړوندو ادعاوو رفع کول او حکميت بايد د قراردادونو د شرايطو پر اساس تر سره شي.

درویشتمه ماده

ضمایم

په قرارداد پورې اړوند هره ضمیمه د دې قرارداد نه بېلېدونکې برخه ده او کېدای شي د دواړو لوریو د لیکلي موافقې له لارې تعدیل شي.

څلورویشتمه ماده

اختلافي موارد او د قرارداد تطبیق

۱. دواړه لوري، هره هغه ستونزه یا د نظر اختلاف چې د دې قرارداد د تفسیر یا تطبیق له کبله رامنځ ته کیږي، باید د سلا مشورو له لارې رفع کړي او بل هیڅ ملي یا نړیوالې محکمې، دیوان، بلې ورته مرجع او یا هم دریم لوري ته د حل و فصل لپاره یې راجع نه کړي.

۲. دواړه لوري، د دوی اجرائیوي استازي یا د هغوی ګډ کمیسیون کولای شي د دې قرارداد د احکامو د تطبیق په منظور پر تطبیقي تدابیرو او طرزالعملونو موافقه وکړي.

۳. د دې قرارداد پر اساس همکاري، د دواړو لوریو د اړوندو قوانینو، مقرراتو او د بودجوي تخصیص د نافذه قوانینو پر بنسټ ترسره کیږي.

٤. د متحده ایالاتو د ځواکونو اداري، د هغو اموالو یا خدماتو په بدل کې چې دوی یې غوښتنه او ترلاسه کوي یې، له هر ډول مالیاتو پرته، د بازار مطابق مناسب قیمت تادیه کوي.

پنځه ویشتمه ماده

د اجرائیوي استازو په غوښتنه او د دواړو لوریو په انتصاب سره، د ګډ کمیسیون په ترکیب کې نور حکومتي استازي هم شاملېدای شي.

۲. له اړتیا سره سم، ګډ کمیسیون باید خپل طرزالعملونه مشخص او د کاري ډلو او اداري خدماتو په شمول حمایوي ارګانونه رامنځ ته کړي. هر اجرائیوي استازی په ګډ کمیسیون کې د خپلې برخه اخیستنې لګښتونه تامینوي.

۳. د اړتیا په صورت کې، ګډ کمیسیون دنده لري د افغانستان - متحده ایالاتو ترمنځ د دفاعي او امنیتي همکاریو له کاري ډلې سره چې "د ستراتیژیکو همکاریو د موافقتنامې" پر اساس رامنځ ته شوې، معلومات تبادله او همغږي کړي.

شپږویشتمه ماده

د قرارداد انفاذ، تعدیل او فسخ

۱. دغه قرارداد، د ۲۰۱۵ میلادي کال د جنورۍ په لومړۍ (د ۱۳۹۳ لمریز کال د مرغومې ۱۱مه) نېټه وروسته له هغې نافذیږي چې دواړه لوري د دیپلوماتیکو کانالونو له لارې د خپلو اړوندو داخلي قانوني ایجاباتو د مراحلو د بشپړېدو په اړه چې د دې قرارداد د انفاذ لپاره ضروري دي، یو بل ته خبر ورکړي. دغه قرارداد د ۲۰۲۴ کال تر پایه (۱٤۰۳ ژمی) او له هغې وروسته نافذ دی، مګر دا چې ددغې مادې د څلورمې فقرې له حکم سره سم فسخ شي.

۲. د دې قرارداد له نافذېدو سره سم، په افغانستان کې د متحده ایالاتو د ځواکونو د حضور د څرنګوالي په اړوند د ۲۰۰۲ میلادي کال د سپټمبر د ۲۶مې (د ۱۳۸۱ لمریز کال د تلې ٤مه) ، د ۲۰۰۲ میلادي کال د ډسمبر د ۱۲مې (د ۱۳۸۱ لمریز کال د لیندۍ ۲۱مه) او د ۲۰۰۳ میلادي کال د مې د ۲۸مې (د ۱۳۸۲ لمریز کال د غبرګولي ۷مه) نېټې تبادله شوي یادداشتونه فسخ کیږي. همداراز دا قرارداد ټول هغه پخواني توافقات او تفاهمونه

٤. دغه قرارداد د دیپلوماتیکو کانالونو له لارې د دوه اړخیزې موافقې یا د یوه لوري له خوا بل لوري ته د دوه کاله وړاندې لیکلې خبرتیا په ورکړې سره فسخ کېدای شي. د دې قرارداد پر اساس، د کومې ضمیمې یا تطبیقي تدبیر فسخ د دې قرارداد د فسخه کېدو سبب نه شي کېدای. له دغې فقرې سره سم د دې قرارداد فسخ له نورو اقداماتو پرته، ددې قرارداد د ټولو اړوندو ضمایمو او تطبیقي تدابیرو د فسخې سبب کیږي.

د پورتنیو مراتبو په تائید سره، د دواړو لوریو ذیصلاح استازو دغه قرارداد د خپلو مربوطه دولتونو په استازیتوب، لاسلیک کړ.

دغه قرارداد په درې نسخو کې د ۲۰۱۴ میلادي کال د سپټمبر د میاشتې په ۳۰مه (د ۱۳۹۳ لمریز کال د تلې د میاشتې په ۷مه) په کابل کې په پښتو، دري او انګریزي ژبو ترتیب او امضا شوی دی چې ټول متنونه یې یو شان اعتبار لري.

د امریکا د متحده ایالاتو	**د افغانستان د اسلامي جمهوریت**
په استازیتوب:	**په استازیتوب:**
جلالتمآب جیمز بي کنینګهم	**جلالتمآب محمد حنیف اتمر**
د امریکا د متحده ایالاتو سفیر	**د افغانستان ا.ج. د ملي امنیت مشاور**

الف ضمیمه

په افغانستان کې د هغو تأسیساتو او ساحو لیست چې د افغانستان له خوا د متحده ایالاتو ځواکونو د استفادې او لاسرسي لپاره برابر شوی دی ("منل شوي تاسیسات او ساحې")

کابل

بګرام

مزار شریف

هرات

کندهار

شوراب (هلمند)

ګردیز

جلال آباد

شینډنډ

منل شوي تاسیسات او ساحې هغه تاسیسات او ساحې دي چې له ځینو یې د دې قرارداد د نافذېدو د نېټې پر مهال د متحده ایالاتو د ځواکونو له خوا استفاده کیږي او د افغانستان په نورو سیمو کې هغه نور تاسیسات او ساحې هم په کې شاملیږي چې د افغانستان د دفاع وزیر له خوا به پرې موافقه وشي او ورته به اجازه ورکړل شي.

ب ضمیمه

د دخول او خروج رسمي ځایونه

د بګرام هوایي ډګر

د کابل نړیوال هوایي ډګر

د کندهار هوایي ډګر

د شینډنډ هوایي ډګر

د هرات نړیوال هوایي ډګر

د مزار شریف هوایي ډګر

شوراب (هلمند)

ځکمني بندرونه:

تورخم، ننګرهار ولایت

سپین بولدک، کندهار ولایت

تورغونډي، هرات ولایت

حیرتان، بلخ ولایت

شیرخان بندر، کندز ولایت

همداراز نور دخولي او خروجي رسمي ځایونه چې په دوه اړخیزه توګه به پرې موافقه وشي.